# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| | |
|---|---|
| Resistance Memories | خاطره هائی از مقاومت |


ژباړه: فرهاد ویاړ
۰۱ جولای ۲۰۱۳

## د یانګ تسه له سیند څخه تیریدل

**(۳)**



چانګ او تاپائو د کار په ځای کې خپلو ملګرو ته خاوره وړي. هئو، یوه دقیقه هم له هغوی سترګې نه لیرې کوي. د کار له ځایه لیری کیدل ناشونی ده.



څو شیبې وروسته د کارګرانو یوه ډله بلوا جوړوي. ځیني د اعتراض په ډول وایي:«مونږ ماشینونه نه یو، له مونږ نه د ماشین سره هم ښه چلند کیږي، په ماشین کې تیل اچول کیږي، مونږ ته ان یو ګیلاس اوبه هم نه راکوئ.» یوه بله ډله هم راپاڅیږي او وایي:«که مونږ ته اوبه رانکړئ، مونږ هم نور کار نه کوو.»



هئووکیو د تیارسی حالت نیسي. مخکې له دې چې وضعه خرابه شي، هغه باید بلوا غلې کړي! ښه موکې ده! چانګ په بیړه لرګی په خپل اوږې ږدي، د سطلونو لاستی نیسي او په بیړه د سیند خوا ته ځي.



چانګ بی له دې چې له کوم خنډ سره مخامخ شي، له ښړې ځمکې تیریږي او د سیند څنډې ته رسیږي. هلته خپله شاوخوا ګوري، کږې وږې کندې ویني، ځمکه ورته غیر عادي په نظر ورځي. له ځان سره وایي:«دا د چمن ټوټی دلته څه کوي؟ معلومه ده چې د ځمکې دا برخه له نورو برخو سره فرق لري!»



چانګ په داسي حالت کي چي د بيرته راتګ وخت کي خپل قدمونه شميرل، خپلو ملګرو خوا ته راستنيږي. د ځمکي اوږدوالی ۲۴۰ متره دی، يعني دښمن غواړي په دې ځمکه کي پټنځايونه او مورچلي جوړې کړي.



د دښمن د ګارد سرتيری د وسلي په زور غواړي چي بلواګر کارګران بيرته په کار بوخت شي. په همدې موکه کي چانګ له لارې رارسيږي. هئو، ورخخه په عصبانيت پوښتي:« تا ته چا اجازه درکړه چي هلته لاړ شئ؟» چانګ ځواب ورکوي:«دوې اوبه غوښتلی، ما هم له دې ويرې چي داسي نه چي بلوا وکړي، دوې ته له سيند نه اوبه راوړلئ.»



هئو چې د هغه له ځواب څخه قانع شوی ښکاریده، په اوچت آواز وايي:« بل ځل دې ونه وینم چې دا کار تکرار کړئ.» او بیا مخ کارګرانو ته راګرځوي او وايي: «هر چا چې له دې وروسته بی اجازې د کار سیمه خوشی کړه، بی له ځنده د شکمن په توګه نیول کیږي.»



چانګ او تاپائو وروسته له دې چې له کار څخه پلورنځي ته راستانه شول، په خپلې نقشې کار پیلوي. چانګ په داسې حال کې چې په نقشه کې په یوې شکمنې سیمې باندې د پوښتنې لویه علامه ږدي، وايي: «بی له کوم شکه باور لرم چې دښمن خپلې مورچلې همدلته جوړې کړي دي. مونږ باید څیړنې ته ادامه ورکړو.»